## لرغونې ګندهارا دپشه يي ژبې نوم:

ګندهـ یا ګندهارا داباسین ښی لورته داټک په لس کیلومتری کې دصوابۍ به تحصیل کی پروت یولرغونی ښارؤ، چې دی ځای ته په لرغونی زمانوکې ورته ګندهارا هم ویل کیده .(۱)

ګندهارا دعیسی (ع) دزیږیدون نه وړاندی په شپږمه پیړۍ کې دفارس اومیدیا داخامنی (هخامنشی) ټولواکو د واکدارۍ سلم (۱۰۰) ولایت نوم . (۲)

کوم چی د داریوش په ډبرلیک کې (ګدارا یا ګادرا) سره یادونه شوی او دګندهاریانو دژبې هم پکی لیکل شوی دی هغه دګندهاری ژبې نمونی هم د پشه یي ژبې سره ورته والی په اړه مې هم څه لیکنه کړی ده چی پشه یي سره ډیر ورته والی لري (۳)

**ګندهارا:** داهم دلرغونی پشه یي ژبې ته ورته یو جمع او معرب نوم دی چی خوشبو راوړونکی په معنی ده چې په لاندې ډول يې هریو لفظ په اړه توضیح او وضاحت کول غواړم .

**ګندهـ:** په پشه یي دلغمان الینګاری لهجه کی خوشبو ته ویلی شی.

اوبل دپشه یي ژبې یوه دودیزه کلمه ده چې کله یونوی ماشوم پیدا کیږی، بیاچی دنوی ماشوم مورخپل پلارکره لومړی ځل لپاره چې نوری خپلوانی ښځی هم په ډله یزه شکل چې لاسونواو تندوکې رنګ رنګ ګلان ټومبلی وي بوځی یاورځی، نودغه رسم ته هم (ګندَهـ)ویل کیږی. لکه: سونزام ګندهَ شاړوي آس. یعنی انګورمې (ګندهَ) روانه ده یا لومړی ځل نوی ماشوم خپل پلارکره بوځی،بیا دمزی خبره داده چی دهغه ښځی اوماشوم سره تلونکو خلکو ته هم (ګندهارا) ویلی کیږی. یعنی دغه ښځی اوماشوم سره راتلونکی یا تلونکی خلک، نودا رسم هم دغه نامه سره بی اړیکی نه بریښی،ضرور ورسره تړاؤ لري.

**آرا:** په عمومی توګه په پشه یي کې راوړونکی،لرونکی، راوستوونکی ته ویل کیږی .

**ګندهـ آرا:** یعنی پوره معنی یې د خوشبوی راو ړونکی او اصطلاحی معنی یې سمسوره ، ښیراز او بډایه سیمه یا آباده، همواره زمکه، اوباغونو او ګلونو سیمه اوځای . دی ته ورته نور کلمو بیلګی هم لرو

لکه: کندارا: یعنی اوړی لرونکی یا غرئیزه، ګنسارا: یعنی واښه راوړونکی، دار آرا: یعنی لرګی راوړونکی، کوچارا: یعنی واده ته راتلونکی، پشپارا: یعنی ګلان راوړونکی، چیلارا: یعنی رمه رواوستونکی.

**ګندهارا:** یعنی ددی پوره لغوی معنی یې خوشبوئی راوړونکی په معنی ده،یا دښځی نوی ماشوسره تلونکی خلکو ډله.

**مثالونه:**

\۱ یو زئیپ ګندهَ شاړوي آس . یعنی ښځه لومړی ځل لپاره ماشوم دنیکه کره بوځی .

\۲ سِه ګندهارا بوګِروا آس . یعنی هغه خوشبوئ راوړونکی را روان دی .

\۳ مِه ګندهاریان آین . یعنی دوی خوشبو راوړونکی یا دګندهارا خلک دی .

**متل** : شوړ پوشارا اي گندهارا . **یعنی شل مزدوران او یو (گندهَارا) میله برابرنه دي.**

**شعر** : **اوټک گندهَ شاړوي اَس گندهارا آین ملتنا**

\+ **اَو وچپړی ختارشن پوړئ چنگړا چاټ اَنگا** ..(.........)

**یعنی جلی گندهَ روانه ده اوخپلونوروښځوسره چې کجاوی یې ډکی دي وړاندی ثیرلیٰ ټوپونه وهی .**

**لیک** : **فضل الرحمن صادقی .**